**لیکونکی** : بران برلیتک (Brain Berletic)
منبع او خپریدو نیټه : ګلوبال ریسرچ «20-12-2029» .
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .
==========================================

# دروسیی هایپر سونیک «رزکون» توغندي الوتنه وکړه چي په رادار کی نه لیدل کیږی ستراتیژیکی پایلي

## Russia,s Hypersonic (zircon) missile takes flight . can’t be seen on radar ‘ strategic implication



دروسی دولتی رسنی دخپل نوی مافوق صوت «زرکون» توغندی د بریا لي ازما یښت د توغونی خبر خپورکړ یعنی دهغه توغندي توغول چي دمارچ میا شتی په (اتمه) په سرعت ( دغږ دسرعت څخه«اته» برابرزیات یاشاوخوا «10000»کیلو مترپه ساعت کي) سره،کوم چی دا توغندي داحتما لی برید ګرو هوایی دفاعی سیستمونوته نوی اومعتبرګواښ پیښوی یوډول توغندی دی دا توغندي دروسی دجنګي بیړی له عمودی لانچ (دعزیمت له مبدا څخه) تیوبونو توغول شوی ، کوم چي په سمندر او وچه کي ددواړو هدفونو دویشتلو یا د ضربی کولو وړ دي . دا وروستي ازموینه یا ازمایښت د (350) کیلومترو په اوږدو کی تر سره شوی ، مګر ادعا کیږی چی دا توغندي د (زرو) کیلومترو حدود پوری هدف ته د رسیدو وړتیا لري .

دا په دي معنی دي چي دمدیترانی بحر یا سمندر څخه توغول شوی توغندي دمثا ل په توګه کولی شی په سوریه کي د رواني جګړي په اوږدو کي کوم یو هد ف ته زیا ن ورسوی ، یعني څه په سوریه کي او یا د سوریي په ګاونډی هیوادونو کي اهداف وولی کوم چي د سوری ددولت اودهغه هیواد دمتحدان لکه روسی څخه نظامی ملاتړ کوی په نښه کړي .

***آیا د ولویدیځ ښکیلتیا د «زرکین توغندي» ظرفیتونه دویری پټولو لپاره دي .***

د لوید یځ رسنیو د یوڅه وخت لپاره د روسی ها یپر سونیک توغندیو په اړه راپور ورکړ او اوس چي دراپور له مخي د«زرکون» لمړي توغندي بریالی ازموینه کی الوتنی کړي دي دلوید یځ تر

*مینځ اټکل او همدا رنګه د روسی تخنیکی لاسته راوړنی د کمولو هڅه په بشپړ حرکت کی ده .*
*مقالی لکه د مشهور ساینس د مقالی په څیر دروسی د هایپر سونیک توغندي په اړه ولویدیځ شور ماشور جوړکړي چي د روسی پر ادعا باندی باور مه کوی اوهغوی داسی هڅه اوادعا کوی :*
*دکم او یا زیات شته مخالفتونو سره سره لا تر اوسه بشپړاطلاعات ددی توغندی د پیژندنی په مورد کي نشته ، لکه هغسی چي روسان ادعا کوی چي بی شمیره ګوابنونه بیړیو ته په بحر کي دی یعنی چي په سمندر کی روسی بیړی د زیات ګوابنونو سره مخامخ دي .*
*مقالی په دوام کي لیکي چی سرعت یواځی د (زرکون) توغندي نه هیریدونکي ځانګړتیا ده اودا چي دتمرین کولو وړ تیا په ځانګړی توګه دلوبی پای .پای ته رسیدل دهد ف په نښه کول دمخه – دا به واقعاً وړ اونژدی نه ودریدونکی ګواښ د ساحي بیړیو ته بریدګر هیوادونه ورسوی . اما بیا د نظامی کام مقاله شتون لري «ولی د روسی ها پرسونیک توغندي په رادرکی نه لیدل کیږي ؟ چي یادونه کوی « پکي تینګار شوي » .*
*توغندی د پرمختللی سونډ (سوخت) موادو په لرلو سره الوتنه کوی یا تغول کیږی چي وروسته بی ورته (زر) کیلومتره پوری ساحه ورکوی اودا خورا ګړندي دی چی د وسلی په مخ کي دهوا فشار د پلازما ډول وریځ (cloud) جوړوی لکه څنګه چي حرکت کوی رادیویی څپی جذبوی اودا په عملی ډول فعا ل را در سیستمو ته د لید وړ ګرځوي .*
*د متحده ایالاتو دایجیس(Aegis) توغندی مداخله کونکي سیستم د راتلونکی حملو مخنیوی لپاره د عکس العمل (8-10) ثانیی ته اړتیا لری ، د روسیی زرکون توغندي به دمخه (شل) کیلومتره سفر کړی وی اود مینځونکي توغندیو دنیولو لپاره په کافی اندازه الوتنه نه کوي .*
*د زرکوندتوغندی هد ف ته درا رسیو دبندولو یواځی هیله دهر مافوق صوت توغندي موضوع اوپه چټکي سره دهغه تشخیص اود هغه په مقا بل کي په کا في اندازي سره دهغه د مسیر د سرعت پرضد عکس العمل ښودل اوهغه هم له دفاع څخه تیښته ددی امکان په ګوته کوي چي دهغه څخه مخنیوی وشی .*
***پوتین په ملی دفاع کي :*** *دوسلوکنترول په اړه ګواښونه اویا خبرو اتروته وړاندیز وکړ ،مګر دا هغه وخت ،چیری چي یواخی یو یا څو توغندي ویشتل شوی وی ، حتی دمتحده ایالاتو یوه بشپړه ډله ایز الوتنی کونکی به وتوانیږي چي په یو وخت کي یوازي ددی توغندیو ډیری ډزی وکړي .*
*د «زرکون » د توغندي وروستنی ازمایښتی الوتنی کی یا دهغود توغولو لپاره په عمودی بڼی سره څو تیوبونه دهغه د توغولو لپاره چمتو شوي اوهغه په دي معني چي په راتلونکي وخت کي دغه توغندی په کتلوي بڼی سره به دروسي په جنګي نظامي بیړیو کي ځای پر ځاي کیږي ،کوم چي بیا په هر وخت له دي بیړیو څخه نوموړی توغندي تغول کیږي .*
*ددي سره سم ددي توغند یو د تغولو یا د الوتنی لاری بد لید و سره د توغند یو زیا ت شمیر ه ممکن بالقوه هد ف یا اهدافو ته په ورته وخت کی اوهغه هم له څو زاویو څخه هد ف ته رسیدلي شي . حتی د بشپړتیا په نوم پیژندل شوی پروسی یا روند کي تر ټولو غوره دفاعی ساتنی هم .*
*دا په دی معنی ده چي ددي توغندیو کافی اندازه باید د ا دروسی سمندری ځواکونو سره کاروکړي کله چي که اړتیا ورته پیدا شي چي وکارول شی . ددی توغندیو لوی شمیر کولای شی دهوا دفاعی سیستمونوته زیان ورسوی حتی که دوی په ځانګړی ډول د (زرکون) توغندي په څیر دهایپر سونیک وسلو سره مقابله وکړي .*

## ***دولوید یز د نظامی یرغل لپا ره د لګښتو لوړول :***

*د «زرکون » توغندي نه یوازی داچي دروسی د بیړیو دتوغندیو په مینځ کي روسی ته یوه بله متعارف سلاح ور په لاس کوي بلکه د ولویدیځ د یرغل په وړاندي دیو مخی نیونکي سلاح په بڼه هم په کار وړل کیدی شی او همدارنګه ددي سلاح خرڅلاو دروسی پر متحدینو باندي دداسی*

موجبا تو سبب کیدی شي چي د روسی متحد ین د روسی څخه دبا ندی له خپلو پولو څخه څارنه اوساتنه وکړي کوم چی دا پخپله په بشپړ باور سره دروسی د پولی اود سمندری سواحلو دامنیت د پراختیا موجب را برابروي .

## په حقیقت کي دامریکي د رند کورپوریشن (Rand corporation) دخبرو اترو خونه «اتاق تنویر» :

په یو اوږد سیا ست ګذار مطالعه کي د هایپر سونیک د توغندي د پراختیا څخه د مخنیوی تر عنوان لاندی یو مقاله نشر ته سپارل شوی کوم چي په هغه کي یاده شوي چي باید د نوی هایپر سونیک توغندي دپراخید و مخه ډب کړ شي نو هغه داسی ګوابن وکړ چي که چیری ځوک دی ټکی ته پام ونکړي نوپه هغه صورت کي به ټول نړۍ دامریکی د مخ پر زیاتیدو نظامی سلاحګانو دګوابن سره په مخامخ کیدو توضیحات به تر لاسه کړي .

## دغه مطا لعه یادونه کوي :

د ما فوق صوت د توعندي دمخنیوی دستونزي دلامل په شتون سره ، نسبتاً کوچني هایپر سونیک ځواکونه کولای شی دلوی قواوو وړاندي کیدونکی ځواکونو په وړاندي ګوابنونه را مینځته کړی یا حتی دلوی قدرتونو اود کور په دننه کي دګوابنونودمخنیوی کوی.
اودغه ګواښ دلوی قدرتونو د ځواکونو ته پیش بینی شوی چي تقریباً بیا په ځانګړي ډول آمریکي ته اشاره کول دي یعنی دهغه چا په مقا بل کي چي هغه وار په وار دنړي په هر ګوټ کی تجا وز اویرغل تر سره کړي داهغه څه دي چي امریکي ورڅخه ډاریږي .
دا یو غیر اتومی نظامی ډارونه (راګرځونه) دي چي کولی شي دامریکی تحت البحری ګاني غرق کړی یا دامریکی هغه نظامی اډی چي په نورو هیوادونو کي په غیر قا نونی بڼی سره جوړ شوی له مینځه ویسي . دویلو دی چي متحده ایالات داسی ډول سلاح په لاس کي نه لري ، چی له خپل ځان او له دي اډو څخه پوره ساتنه وکړی ، او که چیری دا ډول سلاحګا نی هم ولري اما بیا دهغه شمیر کمه دي . اودبلی خوا څخه امریکي هیڅ داسی کومه په قانونی ډول سره په لاس کي نه لري چي ددی ډول سلاحګانو دپرمختیا مخه ونیسی . نو دا به یوه سخته قضیه وی چي نړیوالي ټولنی ته دپلورلو لپاره پالیسی را مینځته کول اویا دهغه د تولید مخه نیول طبعاً ستونزمن ښکا ری .
پخپله دمتحده ایالاتو لپاره یعنی داسی ملت کوم چي دوه لوی سمندرونه یی محا صره کړي دی اتلانتیک اوپا سیفیک بحرونه . دهغه هایپر سونیک توغند یو احتمال لږ تر لږه دی چي خطر لري دا دهغی غیر قانونی ځای پر ځای شوی نظا مي ځواکونه دي چي په ورته ډول په ټوله نړۍ کي غیر قانونی نظامي یرغل کي بوخت دي چي ډیر یی دخطر سره مخه دي .
د **راندو کورپوریشن** مقاله دها یپر سونیک توغند یو دخپرید و یا دهغه د پراختیا د محدودولو لپاره تدافعی اقدامات دمخه یوه سخته جګړه په مخه ده ، په داسي حال کی چي نه یوائی هایپر سونیک بلکه په نا ببره توګه ګړندي اوپر مختللی براهموس(BrahMos) کروز توغندی چي د روسی اوهند له خوا په ګډه جوړ شوی دي ، په پام کي لري په نژدي راتلونکي کي دهایپر سونیک توغندیو په توګه رامینځته شي .
دا تکنالوژی به بی له شکه دروسی اود چین په څیر هیوادوته به ورته پراخه وده ورکړي ځکه چي دا دنړۍ په ګوټ ګوټ کي د متحده ایالاتو د نظامی یرغل پر وړاندي د ځواک د توازن اود برابری موجب یا لامل کیږي ، دا دیو غیر اتومي بدیل دي چي دمتحده ایالاتو نظامي یرغل لپاره قیمت یا ارزش لوړوی ، په دی توګه په واشنګټن کي پالیسی جوړونکي پریږدي او په والستریت کي ددوی سپانسروته د لا جوړښت رقابت اوهمکاری سره ددوی یوائنی بدیل په توګه .
له ډیرو خواوو څخه د روسی هایپر سونیک توغندي «زرکون» نه یوائی تخنیکی لاسته راوړنه یا نوی لاسته راغلی او یو کلکه پوځی لوړ تیا ده ، بلکي دا د ډیرو پراخه دیپلوماتیکو هڅو ګټوره

برخه هم ده ، تر څو نړي دولویدیځ تر واک لاندي واحد مقرراتو څخه واوړي ، دبین المللی نظم پراساس دیو غربی نظامی یرغل وړلو د ملاتړ لخوا لیکل شوی مقا له ښیي ، چي د جګړی مصارفات دامریکی له خوا دنظامی بودجی دعادلانه سیالی څخه په سرغړونه خورا ډیر لوړ دي .

## ددی مقالی د لیکونی په اړه څو کرښي :

برین برلینک په بنکاک کي میشته جیو پولیتیکل څیړونکی او لیوال دي ، په ځانګړی تو ګه د آنلاین مجلی « نوی ختیځ لید» لپاره چیری چي دا مقا له په اصل کي خپره شوی وه .

======================== په درناوي «20-01-2021»